دادگـاه مردمی بـرای زنـان افغانسـتـان
د افغانستان د ښځو لپاره ولسي محکمه
PEOPLE'S TRIBUNAL FOR
WOMEN OF AFGHANISTAN
PERMANENT PEOPLE'S TRIBUNAL

## د افغـانستان د ښځـو لپـاره ولسـي محکمه

# د قضـايي پـرېکړې لنـډيز

د ۲۰۲۵ د ډسمبر ۱۱مه



**"ښځې یا د کور  دي یا د ګور دي."** د افغانستان د ښځو ولسي محکمه (PTWA) کې یوې افغانۍ ښځې شاهدي ورکړه. د دې محکمې د اتو قاضیانو پلاوي، چې مشري یې رشیده منجو کوله، او همدارنګه ګڼ شمېر حاضرینو، په دروند او جدي سکوت سره دې شاهدۍ ته غوږ نیولی و.[1] یو بل ژوندي پاتې شوي کس وویل: **"دا یوازې زما کلمې نه دي؛ دا د مېرمنو درد دی چې په تیرو څلورو کلونو کې غلې کړای شوې دي او خبرې نشي کولی. دوی ژوندي دي، خو ژوند نه کوي؛ یوازې ساه اخلي."**

دا د هغو کیسو له جملې څخه وې، چې د افغانستان د ښځو لپاره د ولسي محکمې (PTWA) د دوو ورځنیو اورېدنو پر مهال شریکې شوې، او وروسته د دربیمې ورځې په ترڅ کې د قاضیانو له لوري یوه لومړنۍ اعلامیه وړاندې شوه. دا بهیر د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له ۸مې تر ۱۰مې پورې د هسپانیې په مادرید ښار کې ترسره شو. یو په بل پسې، ۲۴ ژوندیو پاتې شویو ښځو او شاهدانو د طالبانو د رژیم تر واک لاندې د شاوخوا ۲۱ میلیونه ښځو او نجونو د ژوند د بوږنوکې او دردونکي وضعیت کیسې بیان کړې. د افغانستان د ښځو لپاره ولسي محکمه (PTWA)، چې د ۲۰۲۴ کال د ډسمبر په میاشت کې د بشري حقونو د څلورو سازمانونو (غوښتنه کوونکو ادارو) له لوري دایمي ولسي محکمې (PPT) ته د شوې غوښتنې پر بنسټ رامنځته شوه، وروسته له هغه جوړه شوه چې PPT دا وپتېیله چې په افغانستان کې د ښځو او نجونو وضعیت د محکمې د بېړني صلاحیت وړ موضوع ده.[2] وروسته له دې، د غوښتنه کوونکوسازمانونو له لوري د ټاکل شویو څلورو څارنوالانو یوې ډلې د نړیوال جزایي قانون د سرغړونو له امله د طالبانو د لسو لوړپوړو مشرانو او د یوې منظمې ډلې په توګه د طالبانو پر ضد د تورونو عریضه وړاندې کړه، او همدارنګه یې د نړیوالو بشري حقونو د قانون د سرغړونو له امله د افغانستان د دولت پر ضد قضیه هم ثبت کړه. ټولو تورنو کسانو ته خبر ورکړل شو او هغوی ته بلنه ورکړل شوه چې د خپلې دفاع حق وکاروي، خو هېڅ ګډون او ځواب ترلاسه نه شو.

د عریضې او د هغې د ملاتړو شواهدو له څېړلو، او همدارنګه په مادرید کې د درې ورځنیو اورېدنو له ترسره کولو وروسته، محکمې د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر پر ۱۱مه نېټه په هاګ کې خپله پرېکړه صادره کړ. د پراخو شاهدیو او مستندو اسنادو پر بنسټ، محکمې (د نورو موندنو تر څنګ) دا هم وموندله چې طالبانو د ۲۰۲۱ کال له اګست میاشتې راهیسې:

- ښځې په خپلسري ډول نیولې، شکنجه کړې او هغوی سره یې ناوړه او سپک چلند کړی دی؛
- ښځینه فعالانې او لاریون کوونکې یې په جبري توګه ترې تم کړې دي؛
- ښځې او نجونې یې په سیستماتیک ډول له لومړني ښوونځي وروسته له زدهکړو محرومې کړې دي؛
- په پراخه کچه یې د ښځو کار او د هغوی عامه ګډون منعه کړی دی؛
- د ښځو د تګ راتګ، بیان، غونډو جوړولو او د بدن د خپلواکۍ حقونه یې خورا محدود کړي دي؛
- ښځو او نجونو ته په دوامداره توګه روغتیایي خدماتو ته لاسرسی یې محدود کړی، په ځانګړي ډول د جنسیت پر بنسټ د طبي درملنې خنډونه یې رامنځته کړي دي؛ او
- د ښځو لپاره عدالت او حقوقي حللارو ته هر ډول لاسرسی یې له منځه وړی دی.

په پایله کې، محکمه دې نتیجې ته ورسیده چې د طالبانو پالیسي او کړنې **د بشریت ضد جرمونه دي، په ځانګړي ډول د جنسي تبعیض جرم** چې د بین المللي جزايي محکمې (ICC) د روم د اساسنامې د ۷مې مادې لاندې تعریف شوی دی: **"د طالبانو د جنسیت پر بنسټ د ځورونې دوامدار او قصدي کمپاین، چې د فرمانونو، اداري پرېکړو، او سیستماتیک تاوتریخوالي له لارې پرمخ وړل شوی، د نړیوال جزایي قانون مستقیمه او سخته سرغړونه ده. طالبان، د واقعیت او د واکمنې اداري په توګه، د جنسیت پر بنسټ د ځورونې د پالیسۍ له امله چې د بشریت ضد جرمونه تشکیلوي، د جزایي قانون له مخې مسؤلیت لري."**

1 د قاضیانو په پلاوي کې د افغانستان، مصر، هند، ایټالیا، سویلي افریقا، هسپانیې او د متحده ایالاتو اتباع شامل ؤ.

2 غوښتنه سپارونکي سازمانونه دا دي: (۱) رواداري (Rawadari)؛ (۲) د افغانستان د بشري حقونو او ډیموکراسۍ سازمان (AHRDO)؛ (۳) د پالیسۍ د څېړنې او پراختیایي مطالعاتو سازمان (DROPS)؛ او (۴) د بشري حقونو مدافعین پلس (Human Rights Defenders Plus).

سربېره پر دې، محکمه دې نتيجې ته هم رسيده چې طالبانو نورې غيرانساني کړنې هم ترسره کړې دي چې د ښځو او نجونو رواني او فزيکي روغتيا ته يې لوی کړاو او جدي زيانونه اړولي دي.[۳]

پر همدې بنسټ، محکمې وټاکله چې تورن لوړپوړي طالب مشران په انفرادي توګه د تبعيض پر بنسټ د پالیسیو د طرحه کولو او پلي کولو جزايي مسؤليت لري. له دې ورهاخوا، محکمې موافقه وکړه چې ډله ييز او جوړښتي مسؤليت بايد د جنسيتي ځورونې د نظام پلي کولو او دوام لپاره ادارو، وزارتونو، امنيتي ځواکونو، محکمو، او مذهبي ارګانونو پورې وتړي.

د دولت د مسؤليت اړوند د بشري حقونو د بين المللي قانون د سرغړونې په برخه کې، محکمې ومونده چې افغانستان، دا چې د طالبانو تر عملي واک لاندې دی، ښځې او نجونې يې له خپلو بنسټي حقونو څخه محرومې کړې دي (چې په ځانګړې ډول د معلوليت لرونکو پر حقونو يې هر اړخيزې او سختې اغېزې درلودلې دي)، او دغه لاندې حقونه پکې شامل دي:

- د ژوند حق
- له شکنجې يا ظالمانه، غير انساني يا سپکوونکي چلند يا سزا څخه د خلاصون حق؛
- د شخصي ازادۍ او امنيت حق؛
- دا حق چې څوک په خپلسرې توګه ونه نيول شي؛
- د تعليم حق
- د کار حق
- د روغتيا حق
- د بيان د ازادۍ حق
- د تګ راتګ د ازادۍ حق
- د راټولېدو او ټولنو رامنځته کولو د ازادۍ حق؛
- د بدن د خپلواکۍ حق؛ او
- د مدني او سياسي ګډون حق؛

په دې موندنه کې، محکمې په ډاګه کړه چې "له بنسټي بشري حقونو څخه د ښځو او نجونو سخت محروميت به پر څو نسلونو اغېزه ولري، مستقيم به د افغان ټولنې پر ژوند اغېز وکړي، او همدارنګه به په هغو ټولنو کې چې د ښځو او نجونو د حقونو سرغړونه عادي شوې وي – او له مجازاتو څخه معافيت يې نورم ګرځېدلی وي- نړيوالې اغېزې ولري."

لکه څرنګه چې پورته ياد شوي بنسټي حقوق د څو نړيوالو بشري حقونو د تړونونو له لارې خوندي شوي دي، چې دغه تړونونه افغانستان د غړي هېواد په توګه لاسليک کړي دي، د دې حقوقو سرغړونه د دولت د نړيوالو ژمنو د سرغړونې په معنا ده، په ځانګړې ډول د لاندې تړونونو پر بنسټ: د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو نړيوال تړونونه (CEDAW)، د مدني او سياسي حقونو بين المللي تړون (ICCPR)، د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو بين المللي تړون (ICESCR)، د تعليم په برخه کې د تبعيض ضد نړيوال تړونونه (CADE)، د ښځو د سياسي حقونو نړيوال تړونونه (CPRW)، د ماشومانو د حقونو نړيوال تړونونه (CRC)، د شکنجې او نورو ظالمانه، غيرانسانی او سپکوونکو چلندونو يا سزاوو ضد نړيوال تړونونه (CAT)، او د معلوليت لرونکو وګړو د حقونو نړيوال تړونونه (CRPD).

3 د يادونې وړ ده چې محکمې دا هم وڅېړل چې ايا «جنسيتي اپارتايد» د «نورو غيرانساني کړنو» تر سرليک لاندې د بشريت پر ضد د جرم په توګه راځي که نه. د قاضيانو پلاوي دا ومنله چې "په افغانستان کې وضعيت د اپارتايد ته ورته نظام اساسي عناصر لري، يعنې د بېلولو، محروميت او تسلط يو بنسټي شوی رژيم پکې حاکم دی." خو پلاوي دا هم وټاکله چې "څرنګه چې دغه تبعيض پر جنسيت ولاړ دی، نه پر نژاد، نو د نړيوالو حقوقو له مخې د اپارتايد د تدوين شوي تعريف له چوکاټه بهر پاتې کېږي" او له همدې امله دا مهال د جرم په توګه تعقيبېدلی نه شي. سره له دې، پلاوي ټينګار وکړ چې د دې ډول کړنو د مخنيوي، تعقيب او مجازات لپاره اړينه ده چې دا عمل د نړيوالې قضايي رويې له لارې وپېژندل شي او/يا د نړيوالو حقوقي اسنادو په چوکاټ کې تدوين او رسمي شي.

محکمې هر ډول احتمالي ادعاوې رد کړي چې ګویا پورته یادې شوې سرغړونې د اسلامي قانون له مخې جواز لري. د کارپوهانو د شاهدۍ پر بنسټ، د قاضیانو پلاوي وموندله چې د شریعت اړوند د طالبانو تشریح انتخابي او سیاسي ده او له پېژندل شوې اسلامي فقې او علمي اجماع سره برابره نه ده، په ځانګړي ډول د ښځو د تعلیم، کار، روغتیایي خدمتونو او عامه ګډون د حقونو اړوند.

د طالبانو د انفرادي مشرانو او د یوې ډلې په توګه د طالبانو لخوا په ټولیز ډول د دواړو بین المللي جنایي قوانینو او همدارنګه د افغانستان د دولت لخوا د بشري حقونو له بین المللي قانون څخه د ډېرو سرغړونو په پام کې نیولو سره، د افغانستان د ښځو لپاره د محکمې PTWA څو مهمې غوښتنې په لاندې ډول دي:

۱ - په افغانستان کې د طالبانو لخوا د تبعیضي فرمانونو سمدستي لغوه کول او د ښځو د بنسټي حقونو بېرته پر ځای کول؛
۲ - په نړیواله کچه د جنسیتي ځورونې او د بشریت ضد جرمونو په توګه د طالبانو د چلند پیژندل؛
۳ - د طالبانو د واکمنو چارواکو د رسمیت نه‌پېژندنې دوام، تر هغه وخته چې د ښځو د حقونو اړوند د مکلفیتونو له پلي کېدو سره د حساب وړ او د څرګند اطاعت شواهد موجود نه وي؛
٤- د اسلامي همکارۍ سازمان، اسلامي هېوادونه، او اسلامي بنسټونه او عالمان دې په ګډه او په ټینګ او اصولي دریځ سره د طالبانو له خوا پر ښځو د لګول شویو محدودیتونو پر وړاندې ودرېږي، ځکه چې دغه محدودیتونه د اسلامي شریعت خلاف دي؛
۵ - ملګري ملتونه (UN) دې ډاډ ترلاسه کړي چې د افغانستان لپاره تازه جوړ شوی خپلواک څېړنیز میکانېزم په چټک ډول عملي او فعال دی؛
٦ - ملګري ملتونه او د دې سازمان غړي هېوادونه دې د بین المللي قانون له مخې د بشریت پر ضد د جرم په توګه د جنسیتي اپارتاید د جرم د تدوین او رسمي‌کېدو ملاتړ وکړي؛
۷ - له نړیوالې جزایي محکمې (ICC) څخه غوښتنه کېږي چې د جنسیت پر بنسټ د بشریت پر ضد د جرمونو په اړه خپلې څېړنې چټکې کړي، او د دې محکمې غړي دولتونه دې د نیولو د حکمونو په بشپړ ډول د پلي کېدو په برخه کې همکاري وکړي؛
۸ - استرالیا، کاناډا، جرمني او هالنډ دې د عدالت نړیوالې محکمې پر وړاندې ښځو سره د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون CEDAW د بهیر د پرمخ وړلو لپاره پر وخت او په شفاف ډول عملي ګامونه واخلي؛
۹ - د نړیوال قضایي واک (Universal Jurisdiction) د کارولو په ګډون، د نړیوالو حساب کوونکو اضافي میکانېزمونو فعالول؛
۱۰ -دحساب او ځواب ورکونې په ټولو بهیرونو کې د اساسي لوبغاړو او اغېزناکو ونډه والو په توګه د افغانو ښځو شاملول او د هغوی معنادار ګډون تضمینول؛
۱۱ - نړیواله ټولنه دې بشري او پراختیایي مرستې د طالبانو له اداري سره له ښکېلتیا پرته، په مستقیم ډول د افغانستان له خلکو سره روانې وساتي؛ او
۱۲-  د افغان بشري حقونو د مدافعانو ساتنه او ملاتړ دې وکړي.

په ټوله کې، د افغانستان د ښځو لپاره ولسي محکمه PTWA د رښتیا ویلو، پېژندنې او عامه قضاوت لپاره یو داسې چوکاټ و، چې هلته یې هغه غږونه بېرته راژوندي کړل او ځای یې ورکړ، چې چوپتیا ورباندې تحمیل شوې وه. په دې کار سره، دې بهیر د افغانستان د ښځو د نه ماتېدونکې زړورتیا درناوی کړی، او د عدالت، کرامت او د برابرو حقونو لپاره یې د هغوی پرله پسې او نه ستړې کېدونکې مبارزه وستایله.

غوښتنلیک سپارونکي سازمانونه هیله لری دي چې د افغانستان د ښځو لپاره د ولسي محکمې PTWA پرېکړه به له دې وروسته د پوهاوي د لوړولو، د پیوستون د غوښتنې، او د نړیوالې ټولنې د یادونې لامل شي، چې په دې توګه نه یوازې د افغانستان د ښځو او نجونو لپاره بلکې د نړۍ د ټولو ښځو لپاره یو بېل راتلونکی ممکن دی، مخکې له دې چې د جرم د شریک په توګه «د چوپتیا جرم» ټینګ او بنسټیز شي باید دغه جرم پای ومومي.

afghanistantribunal.com